الدرس الثامن | اتم درس
الحيض والنفاس | حيض اونفاس

حيض: دا هغه وينه ده چې د زنانه د رحم نه په حالت د روغوالی کښې خارجيږی ، د بچې د پيدائش د وجې نه او نه د مرض د وجې په يو ځو معلومو ورځو کښې چې تور رنګ او بد بوئې والا وی .

نفاس : دا هغه وينه ده چې د زنانه درحم نه د بچې د پيدائش نه روستو خارجيږی ، په حالت د حيض او نفاس کښې زنانه دپاره مونځ کول او روژه نيول جائز نه دی ، عائشه رضی الله عنها فرمائی :

« قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : فَإِذَا أَقْبَلَتْ حَيْضَتُكِ فَدَعِي الصَّلاَةَ ، وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ ثُمَّ صَلِّي» متفق عليه ٣٣١.٣٣٣

ترجمه : رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : کله چې حيض راشی ، مونځ مه کوه ، او کله چه ختم شی نو وينه د ځان نه ووينځه (غسل وکړه) او مونځ شروع کړه ، د مونځونو قضا ورباندي نشته ، او د فرضی روژی ځومره چه په حالت دحيض يا نفاس کښې خوړلی وی دهغی قضاء به پوره کوی ، د حائضی زنانه دپاره د بيت الله طواف کول جائز ندی ، او دخاوند دپاره د خپلي حائضي ښځي سره نزديکت حرام دي ، او د جماع نه غير تري هرقسمه فائده اغستلي شی لکه خکلول وغيره ، او دحائضي دپاره د قرآن کريم مسحه کول هم جائزندی ، د حائضي زنانه وينه چی کله هم بنده شی ، غسل به کوی ، غسل کول ورباندی واجب دی ، او هغه کارونه چی مخکښي ورله حرام وو نو دغسل نه پس ورله جائز شي د مونځ وخت داخل شو او يوی زنانه مونځ ندی آداء کړی ، او مرض ورباندي راغلي ، دپاکوالی نه پس به دغه مونځ قضاءکوی ، که چرته د مونځ دوخت د ختميدو نه مخکښې زنانه پاکه شوه دغه مونځ ورباندی هم فرض دی ، اګرکه د يورکعت وخت ولی نوی ميلاؤ شوی ، او غوره داده چی کوم مونځونه شرعاً جمع کول (جمع بين الصلاتين) جائز وی ، هغه دي ورسره هم وکړی لکه د نمر ډوبيدونه مخکښې پاکه شوله ، د مازيګرمونځ ورباندي فرض دي ، نو د ماسپخين مونځ قضاء دِی ورسره هم وکړی ، دويم مثال د نيمی شپی نه مخکښې پاکه شی ، نو د ماسخوتن مونځ ورباندی فرض دی نو د ماښام مونځ دِی ورسره هم وکړی ، دا غوره عمل دی.